# افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com     www.afgazad.com

| تاريخي | Historical |
|---|---|



ډاکتر  رحمت ربی ځیرکیار*

۱۷ فبروری ۲۰۱۶

## د جرګې په مخکې او د ټوپک تر شا:
## د جنرال یارمحّمد خان وزیری د کتاب لنډیز
## ۴


* د برلین د ازاد پوهنتون، د کابل پوهنتون، او په امریکه کې په دوه پوهنتونونو کې د سیاسي علومو پخوانی ښوونکی. ماستري او ډاکتري دواړه په سیاسي علومو کې د برلین په ازاد پوهنتون کې، او مافوق بکلوریا په سیاسي تعلیم او تربیه کې په کویټي پوهنتون کې ـــ د فرانکفورت/ماین ښار


### (۱۸) د کـابل جګــړه

داچې د سقاویانو روحیه ګرېبدلې وه، وروسته له جرګې په دوه بجو ټول لښکر له زرغون ښار نه د کابل په لوري و خوځید. محّمدګل مومند موظف شو چې د احمدزیو کوچیانو او د رود د احمد زیو سره دې د موسهي لـوګر له لارې د کابل په خوا وخوځیږي او پاتې نور لښکر دې  د چاراسیاب له لارې کابل ته ورننوځي. سردار شاه ولیخان د جرنیل(جنرال) غلام حیدرخان په کور کې دیره شو.  د ۱۳۰۸ د میزان په ۱۴[۶ اکتوبر ۱۹۲۹]، ولسي جنرال یارمحّمد وزیري د خپل لښکر سره د بچه سقاو په مقابل کې  د کابل په هسکو کې مورچلې ونیولې او په هغه ورځ يې د سقاویانو سره جګړه پیل کړه او په لـړ وخت کې يې څلور مورچلې ورنه ونیولې.  کرنیل شاه ولیخان په چهلستون کې «دربار غـورولـی و، سپاه سـالار صاحب محّمدنـادرخان د ځاځیو په علیخیلو کې زما د جنګیالیو د ماتې او بـري » خبر ته سترګې په لار و(۲۹۲-۳۰۴ مخونه). کرنیل شاه ولیخان مخکې له دې چې د ژغورنې د لښکر مورچلـونو ته ورشي، د سقاوي سـور جرنیـل [جنرال] محّمد عمر خان سره يې لیدلي وو. داچې  سور جنرال «څه ورته ویلي وو، د هغه څخه زه ناخبره وم». سردارشاه ولیخان چې له چهلستون نه د منګلو د مشر (ځلمی خان منګل)، د ځدرانو  د مشر (زمرک خان ځدران) او د ځاځیو د مشر (ملک جانخان)   په بدرګه د لیکوال جنرال وزیري د لیدنې لپاره په اس سپور ورغلی و، «ما او زما ملګرو ته د مایوسی  او  نااميدی تلقین کاوه»(۳۰۴-۳۰۷ مخونه).

جنرال یار محّمد خان وزیري ورته وویل چې د ژغورنې د لښکر د مشرانو په پرېکړه به يـې خبر کړي

پرېکړه داسي شـوه چې خپـل جنګیالي به «نـن شپــه» د ارګ هر لوري ته رسوي. د کوماندي په  مرکز کې پخپله جنرال وزیري او ملګري يي  انګور خان ، دلبازخان، شیرمحّمد خان، شیرخان تـنـی، ښادین خیل دوړ، ملک

ګل خان، او ملک ډنډ خان ناست وو. د شپې په نهه بجو د کابل په لــوري د برید ډولــونه ووهل شول. د ژغـورني لښکر د سهــار په اووه بجو د کابل ښار مــرکز ته ننوت،دري ګینـټي وروسته ارګ ته ورسید، بچه سقاو یې هلته محاصره کړ، او له ارګ نه بهر د سقـاو ټولې مورچلــې یې ړنګې کړې وې. د ۱۳۰۸ لمریز د میزان په ۱۸[۱۰ اکتوبر ۱۹۲۹]، سردار شــاه ولی خان په اس سپــور د خــپلوځاځــیو او ګردیـزیـو پیره دارانو او یو شمیر قومي مشـرانو ســره د کابـل ښار ته راورسید، او «موږ» ته یې د کابل د نیولو مبارکي راکړه، او دومره خوښ و چې د ژغورنې د لښکر هر کوماندان او مشر به یې «په ړیره او مخ بانـدې ځو ځو ځله ښکولو.» یو چا ورته د ده دوه کلن ځوي عبدالـولي راوړ. د کابل ښار « ټـول مخــورین ټول په کــورونو کې وو او یو کس مو هم و نه لید چې موږ...ته د کابل د نیولو مبارکي ووایي.» خو د دې پر ځـای، «یـواځـې» د کابــل غریـبـو خلکو ناري وهلې چې: «زنده باد فاتحین کابل...زنده باد غـازی امان الله خان». د کرنیل شاه ولیخان په رارسیدلو سره «د کابل ښار مخـورین او سـرداران هـم د خپلـو کورونو څخــه راووتل او هر یو شاه ولیخان ته د کابل د نیـولو مبارکي ویله او د تیرې دورې څخــه یې خپـل شکایتـونه وړانــدې کـول»(۳۰۶ تر۳۱۴) مخونه. د۱۳۰۸ د تلې په ۱۸[۱۰ اکتــوبر ۱۹۲۹]، سـردار شاه محمود خان د کابل له شـوربـازار نه پــه اس سپور د کابل د سیند په غــاړه د ژغورني د لښکر ساحې ته راورسید. «تـر حده زیات وارخطا و» او لیکوال جنرال ته یې وویل چې: «حالات ډیر خطر ناک دي. پردل سپه سالار د شیرزره جنګي افرادو سره د خیرخانې د کوتـل څخـه هجـوم راوړی دی[او]د هغه په تعقیب نـور مسلح افـراد هـم د شمالي څـخه راروان دي....» جنـرال یارمحمّد خان وزیري ورغبرګه کړه چې: «جرنیل[جنرال] صاحب! غم او فکر مه کـوه!» بچه سقـاو د ژغـورني د لښکر له خوا په ارګ کې محاصره شـوی دی، او دهغــه دوه تــکړه جنرالان (پیـردل خان اوسور جرنیل [جنرال] ناصري) د ژغورنې د لښکر له خوا ځغلول شوي دي. جنرال وزیري، انګـور خان، بجان خان، عبدالله خان د ملک ډنډ خان ورور، او شیر محّمد خان «دلښکر په مخکې روان شــوو.» د ژغــورني لښـکر د ده افغــانـان له لارې د کـلـوله پشــتې «پـه طرف د پـیـردل مـقـابلې تــه وخـوځـیـدو» او په بې بې مهــرو کې د پــیردل خان د سقــاوي لښکر ســره پــه جــګـړه اخـتـه شـــو. سقاوی سپه سالار پیردل خان له درې ګینـټې جګــړې وروسته د ژغــورني د لښکر له خوا ووژل شــو او پاتــې لښکر یې هرې خوا ته وتښتید. غالبو جنګیالیو، ماتې خوړلی سقاوي لښکر د قلعه حسیـن کـوټ او قـلعه مرادبیګ پورې دومره ځغلاوه چې د خلکو کورونو ته یې پناه ویـوړه. د هغــې سیمې «پاک لمنـو میرمنو د جنګي فراریانو د امن او شفاعت لپاره قرآنـونه په لاسونو کې نیولي وو. د هغه افغاني بیبیانو په لیدلو سره ما خپل جنګیالي واپس د کابل په لـوري راروان کــړل». پــه کابل کې ارګ همغــه شان د محاصــرې لانــدې و

ولسي جنرال یارمحّمد خان وزیري تـه محّمد ګل خان مومند ، زمرک خان ځدراڼ، عبدالغـني خـان ګردیزی، مـولـوي الله نـوازخـان، شـاه محمود خان او شاه ولیخان د مبارکی لپاره راغـلل.« د ټولو څخه لومړی محّـمـدګل مـومـنـد چې د ډیر حساس فکر خاونـد و» او زمـرک خان ځـدراڼ( د غـیـرتي ببـرک خان ځدراڼ ځوی) د جنرال یار محمّد خان وزیري نظر ومانه چې زر تـر زره دې پــه ارګ بـریـد وشي، مخکې له دې چې له کندهار، مشرقي ، جنوبي او شمالي نه سقاوي لښـکـرې کابل تــه راورسیـږي او دوی د ناکامی سره مخامخ کړي. وروسـې نورو ټولو ومنله چې د ۱۳۰۸ لمــریز د تـلې (میزان) پـه شلمه[۱۲ اکتوبر ۱۹۲۹] دې سهار وختي د ارګ عــملیات پیل شـــي. شاه محمود خان او شاه ولیخان په «ظاهره څه اظهار نه کاوه» ځکه چې د کورنی غړي یې په ارګ کې بندیان وو. د پریکړې سره سم په ارګ باندې د توپـونو برید وشو او له غـولي نه یې د اور لمبې او لـوګي جګ شول. ولولئ مخونه ۳۱۵ تر ۳۲۲.

## (۱۹) د حضرت اغاګل مجد دي په مشرۍ د بچه سقاو د سولي هيئت

حضرت اغــاګل مجددي چي د حضرت نورالمشايخ مجددي ورور و، بچه سقاو ته به يي« سلا او مشــورې ورکولې». حضرت نورالمشايخ «ځانته سلطنت او پادشاهي غوښته او پر ځان باندې يې غـلـجي تېـرونــه راتــول کــړي وو»( ۳۴۳ مخ). پـه ارګ باندې له برید نه څو ګينټي وړاندې، د ۱۳۰۸لمريز د تلې د نولسمي [۱۱ اکتوبر ۱۹۲۹] د شپې نهه بجي وې چي حضرت اغاګل مجددي د دوه نـورو ملايانو او حکمران سردار عليشاه خان سره يو ځای، د بچه سقاو او دهغه د خيلخاني د امن د غـوښتلو په شفاهي هيله د ژغورني د لښکر مورچلونو ته له ارګ څخه په موټر کـي چي سپـين بيرغ ورباندې رپانده و راغلل. مشرانو خپلمنځه جرګه وکړه چي وزير محّمدګل مومند، ســردار شاه ولی خان، او سردار شاه محمود خان هم پکي برخه لرله. ليکوال جنرال يارمحّمد خان وزيري خپله پريکړه حضرت اغاګل مجددي او د هغه ملګرو ته په ډاګه کړه چي «د ملت قاتل» بچه سقاو ته د امن او يا په امـن د فـرار اجازه نـشي ورکولی. پريکړه دا وه چي د بچه سقاو نه به «قدرت په زور اخلو او هلته په ارګ کي به يي لاس تړلی نيسو....» سردار شاه ولی خان «فـوراً د څو کلمو ويلو اجازه» وغـوښته او پــه « ډيــره عاجــزانه وينا سره يي موږ ته » داسي وويل چي: ليکوال جنرال يارمحّمد خان وزيري «هغه څه وويل چي زموږ ټولو مشرانو د واحد زړه او فکر خبرې وې. اوس به موږ د حبيب الله سره په څه توګه جنګ وکړو. هغه[حبيب الله بچه سقاو] په ارګ کي دی او زموږ د کورنی نارينه او ښځينه غـړي ...يــي په ارګ کي يــرغمل کــړي دي. زموږ د لــوري په حبيب الله باندې فـشار، زموږ د کورنی د غـړو ژونـد په خطر کي اچــوي. ولي بيا هم د وطن د نجات په هيله تاسو د قوم مشرانو چي هــرڅه پــريکړه وکړه په هغه باندې زما او د شاه محمود موافقه ده.» ليکوال جنرال وزيری وايــي چي دواړه سرداران وروڼــه «پــريشانــه او مانيجن ښکــاريــده».

محّمدګل مومند چي يو «حکومتي او قومي هوښيار او ځيرک شخصيت و او د جرګي چاپيريال يي ډير ښه څاره»، ټولو مشرانو ته وړانديز وکړ چي د حبيب الله د امن پريکړه دې دوه سردارانو ورونـو (شاه ولی خان او شاه محمود خان) ته وسپـارله شي په دې دليل چي د دوی ناموس د حبيب الله له خـوا يرغمل شوی دی. محّمد ګل مومند چي د نامــوس او پـټ خبرې ته ګوته ونيوله، ټولو مشرانـو د هغــه وړانـد يـز ومانــه. سردار شاه ولـيخان بـچه سقاو تـه داسي وليکل: «حبيب الله وروره! ته د افـغانستان د حکـومت غـاصب يې او د افغانستان مظلوم ملت دې ټـوکر ټوکر کړی دی، اوس تـه امـن غــواړې. زموږ له لــوري څخه تــاتــه امن دی او د خپـل ال و عيال سره [د ارګ] د شمالي دروازې له لارې نه کـوهدامــن ته ولاړ شه، په بيت المال او جبه خانه باندې لاس مــه وهــه». د شـپې لس بجي وې چه دغـه ليک حضرت اغـاګل مجددي او دوه ملايانو ته وسپارل شــو، خو د ژغـورنـي د لښکـر د مشرانو جـرګي سردار عا ليشاه خان د ځان سره وساته. دا هغه نمک حرام سردار و چي په کند هار کي د والي په حيث يي د هيواد د نجات په اتلانو د کندهار زندانونه ډک کړي وو. د کرنيل پايو خان ساه په زندان کي وختله. په هغه شپه حضرت اغــا ګل مجــددي د خپلو دوه ملګرو سره په خپل موټر کي سپور شو او د ارګ په خوايي حرکت وکړ. څه کم يوه ګينټه وروسته د جرګي مشران خبر شول چي بچه سقاو د ارګ د شمالي دروازې له لارې «فرار کړی دی. د دې خبر اوريدلو موږ ټول حيران او په سخته انديښنه کي واچولو....د شپـي په يولس بجـو ارګ ته د خپلو جنګيالــيو سره داخل شوو.» او هلته «مو د چور او چپاول د مخنــيوي لپاره پيــرې او ګزمې مقرر کړې او په هغه تياره شپه مو د حبيب الله د بنديخاني څخه د سـپه سالار محّمد نادرخان، شاه ولی خان، شاه محمود خان، سر دار اسد الله خان، د سردار عليشاه خان دکورنی غړي او د اعليحضرت امان الله خان ورور راوويستل». پــه کابل کي به د ژغـورنـي

جنګیالیو پیري او ګزمي کولي او مشران به هم په ګزمو او پیرو ګرځیدل. تر دغه مهاله محمّد نادرخان په ځاځیو کي و، امان الله خان له هیواد نه بهر و او هیواد ته بیرته راتګ یې زر ناشوني و. خو محمّد نادرخان د ژغورني د جنګیالیو د مشرانو سره قرآن مجید لاسلیک کړی و چي د بري په صورت کي به د«اعلیحضرت غازي امان الله خان یا د سراج دکورنۍ کوم بل غړي ته تاج و تخت سپاري»، مخونه: ۳۲۴ تر ۳۲۹

## (۲۰) سیاسي لوبه

د ارګ له نیولو نه دري ورځي وروسته، محمّد نادرخان کابل ته راغئ او د ژغورني د لښکر هر مشر یې په غېږ کي داسي «ټینګ نیوه» لکه د بیت الله حاجي چي «حجر اسود په غېږ کي نیسي». هغه د کابل د نیولو ځلورمه شپه په چهلستون ماڼۍ کي تیره کړه. د ۱۳۰۷ لمریز د تلې(میزان) په ۲۳[۱۵ اکتوبر ۱۹۲۹] «مور قومي مشران» او محمّدنادرخان له چهلستون نه د ارګ سلامخاني ته ورسیدلو.


فرمان پادشاهی

صداقتمند سپه‌دار محمد یار خان ... ساکن شاه جوی!

بپاس خدمات و فداکاری که در دوران انقلاب بصدر شده و اقوام غیور وزیری را تحریک و تحریض بجنگ نموده‌اند مناسب دانسته یکصد جریب زمین زراعتی و یکدربند حویلی بقدر کفایت شما در قندهار بصورت بخشش منظور کردیم و العبد اعظم امر دادیم در صورتیکه یک چنین مقدار زمین و حویلی از مال سرکاری در قندهار موجود شده بتواند احکام منظوری آنرا بنام شما به حکومت قندهار صادر نماید و شما براحت و فراغ بال در آنجا زیست نمائید.

**جنرال یار محّمد وزیری ته د محّمد نادر شاه له خوا په کندهار کی د کور اوزمکی فرمان ۱۳۰۸/ فبروری ۱۹۳۰**

هلته د کابل مخور او سرداران د سپه سالارمحمد kادرخان هرکلي ته راغلي وو او د سفارتونو «یوشمیر غړي» هم لیدل کیدل. محّمدنادرخان حاضرینو ته په خپله« لنده وینا» کي «خپل زحمتونه اوتلاشونه بیان کړل، د

وطن د نجات ټولي کارنامي يي په ځان او خپلو ورونو پوري وتړلي ....ولي زمونږ د خدمتونو او هڅو يي لړ. شانته يادونه ونه کړه...اود اعليحضرت غازي امان الله خان د بيا راوستو تش وړانديز يي وکړ.» سم د لاسه د کابل « د مال او مقام وږو او تږو چاپلوسو افرادو» او «يوشمير» قومي مشرانواو د امان الله خان ورور( سردار امين جان[د نادرخان خورى])، نادرخان ته بيعت وکړ. خو د وزيرو، مسيدو، دوړو، ځدرانو او تنيو مشران غلي پاتي شول او له دې لارې يي نادرخان پوه کړ چي دوى ناراض دي. دغه مشران د غونډې په پاى سره له ارګ نه ووتل او په ښار کي يي خپلو مورچلونو ته ځانونه ورسول. په سبا ورځ دوى په جرګه وو، په پکتيا کي د ځنګلونو رئيس او د امان الله خان کلک پلوي فقير محّمد مومند، جنرال وزيري ته وويل: «يارمحّمد خانه! ما په ګل غونډې کي ستا ترغوږ رسولي وه چي محّمد نادرخان دې تير نه باسي، دتيرې ورځي بيعت ښه سياسي لوبه وه.» جنرال يار محّمد خان وزيري ورغبرګه کړه:« اوس هم د کابل اداره زما په لاس کي ده ...هغه شخص چي تا سو د سلطنت د معين په توګه په ګل غونډې کي راته په ګوته کړى و، تا وليد چي هغه ډارن لومړى فرد و چي د محّمد نادر خان سره يي بيعت وکړ. ما د هغه د خاندان او د هغه د ورور په خاطر دا ټولي ويني وبهولي ، اوس به هم د وينو ويالي جاري کړم ولي کاشکي د خپلواکى محصل را لره نژدې واى.» د مشرانو د دغي غونډې راپور کوم چا محّمدنادرخان ته رسولى و. په سبا (۲۵ميزان ۱۳۰۸) [۱۷ اکتوبر ۱۹۲۹]شاه محمودخان او محّمدګل خان مومند د وزيرو او مسيدو مشرانو ته ورغلل چي احوال يي واخلي او د محّمدنادرخان «هيله» ورته ورسوي چي «نن ورځ [به]په ځانګړې توګه ستاسو سره وګوري». ليکوال جنرال يارمحّمد خان وزيرى دغه بلنه ومنله او د شاه محمو خان او محّمدګل خان مومند سره يوځاى د سردار فتح خان کورته ورغلل چي محّمدنادرخان پکي ديره و.

په دغه کور او لارو کي د ګرديزيانو، ځاځيو او موسى خيلو د سريو پيرې او ګزمي وې. کورته په ننوتلوسره، محّمدنادرخان يي روغبړ ته ور ووت، او داسي يي ورته وويل چي: «دافغانستان ملت او زه شخصا ستاسو قهرمانانو مديون يم. د وطن د نجات په لارکي ستاسو هريو خدمت به انشاءالله په دنيا او دين کي ضايع نه شي...زه نن هم په هغه عهد او پيمان ولاړيم چي موږ او تاسو په ځاځيو کي وربانديي دُعا کړې وه.» له دې وينا نه وروسته، الله نوازخان، ځلمى خان منګل، عبدالغني خان ګرديزى او محّمد ګل خان [مومند] هم څه يادوني وکړې.» ورپسي ليکوال جنرال يار محّمد خا ن وزيري د وزيرو او مسيدو «د ټولو مشرانو» په استازيتوب د امان الله خان بيا راوستلو ته ګوته ونيوله: «سپه سالار [محّمد نادرخان] صاحب! د الله په نصرت او د قومي مشرانو په همت او ميړانه کابل فتح شو، د حبيب الله [بچه سقاو] شر او فساد د هيواد د يوې برخي څخه ټول شوى دى؛ په کندهار، مشرقي اوشمالي کي اوس هم دهغه پلويان فعال دي او بهاني لټوي. اوس موږ ټولو ته په کار ده چي [د ځاځيو] د على خيلو په پيمان باندې عمل وکړو چي د نورو وينو تويولو جلوګيري په همدې کار سره وشي.» محّمد نادرخان ورغبرګه کړه: «...نن زه[دځاځيو] دعلى خيلو پر هغه عهد او پيمان ولاړ يم...په وطن کي د ارامى او امنيت راوستلو وروسته ستاسو عزيزانو هره فيصله زمونږ د ورونو فيصله ده...انشاءالله وتعالى چي درست کارونه به قدم په قدم درست شي. د اعليحضرت امان الله خان سره به موږ په تماس کي شو چي خپل وطن ته راستون شي او دا کار څه وخت غواړي.» ولولئ مخونه: ۳۳۰تر ۳۳۶

**(۲۱) د قومونو تر منځ د روغي جوړې جرګه**

کـله چـي د وزیـرو او مسیدو په میړانه د حبیب الله بچه سقاو او د هغه د پلویانو له لوري خطري شـنډې شوې، محّمد نادرخان هڅه وکړه چي د وزیرو او مسیدو او نورو قـومونو په منځ کي روغه او جـوړه رامـنځـته شي او له دې لارې د هغوی تر منځ جګړې او سیالی تم شي. د ۱۳۴۸هجري سپـوږمیـز د شعبان په میاشت [جنوري ۱۹۳۰ زییز]کي د حضرت نورالمشایخ مجددی په ریاست د ارګ په سلام خانـه کي جـرګه راوبلـل شوه چي لاندینـیو اشخاصو پکي ګډون کړی و: حضرت نـورالمشایخ مجددی، محّمدنـادرخان، محّمـد هاشـم خان، شاه محـمود خان، د وزیرو او مسیدو دقومـونو ۹۷ مشـرانو، او د پکتیا ولایت ۳۳ تنه مشرانو(علی خیلو، سـلیمان خـیلو او انـدړو). ولـولئ ۳۳۹ تـر ۳۴۲ مخـونـه.


فرمان پادشاهی

له شاه جوی ځخه کابل ته د جنرال یارمحّمد خان وزیری د کډی کولو فرمان

### (۲۲) انګـریـزانو د مغلکی په تـانـه بـرید را وپـاراوه

انګـریزانو پــه امـان الله خان پسي حبیب الله (بچه سقاو)، سید حسین او ملک محسن راوپارول او دهـغه واکمني یــې رانسکـوره کـړه(فبروري- اکتوبر ۱۹۲۹). په دغه لار کي یې د نورالمشایخ حضرت مجددي کورنۍ هم استعمال کړه. د غلواکی (سقـاوی) له منځه وړلو وروسته، انګریزانو پــه افــغانستان کي په نوي نظام پسي شــرارت راولاړ

کړ: د امـان الله خـان د ورور   په نــوم يې بغــاوت راپــورته کړ، په دې پلمه چې بيرته امان الله خان قدرت ته رسـوي. د صـدراعظـم [لومړی وزير: ۱۹۴۵-۱۹۵۳] سـردار  شاه محمود خان  په مهال، د افغانستان په پــولــو کې د مغــلګــی په تانـــه بريــد وشو. جنرال يارمحّمد خان وزيري د وزيرو او مسيدو جرګې ته وويل: کله چې امان الله خان شخصاً وزيرستان ته راشي او د افغانستان د واکمنی دعــوه وکــړي، نــو بيـا پـه وزيــرو، مسيــدو او «پـر ما بانــدې لازمي ده» چې د هغه سره ملاتړ وکــړو. «اوس چې نه غــازي امان الله خان حاضر دی او نه يې د ليک په ذريعه د سلطنت د ګټلو لپاره مرسته او امداد غــوښتی دی، زموږ هر حرکت د قوم تباهي او بربادي ده....[ د امان الله خان ورور]همدا سـر دار امـيـن جان و چې  د خـپـل ورور [امـان الله خـان] پـه مخالفت يې د محّمد نــادرخان سـره بيــعـت وکـړ». ولولئ:  ۳۴۶-۳۴۹ مخـونه

**پـايـلـه**

محّمدنـادر خان په يوه وينا کې ويلی وو: د کور جوړول په دې نه کيږي چې د کور د بيخ په ځای دې د کور لوړ پـوړ لومړی جوړ شي: «امان الله خان هڅـه وکړه چې د خلکو ذهن د هغوی د خـولـيـو  د بدلولو له لارې واړوي.» يعنـي د نادرشاه بهرنۍ سياست په ناپيلتوب ولاړ و.

“You can not build a nation anymore than you can build a house by starting at top.. Amnullah tried to change the house by starting at top. Amanullah tried to change the minds of people by changing their hats.”



**د جنرال يار محّمد خان  وزيری مونه  ۴۷ کالونه وړاندی په ۱۳۴۷لمريز/ ۱۹۶۸ زيـيز کې**

د دغه ډول سياست ګټه دا وه چې افغانستان د کوم بل هيواد ګوډاګی نه دی. خو برتانيي د نادرخان حکومت ته په ۱۹۳۱ کې لس زره ټوپکونه، پينځه ميليون کالتوس، او نږدې يوسل اتيا زره پونډه د مرستي په ډول ورکړل. مخکې له دې چې قدرت ته ورسيږي، نادر خان د ريچارډ مکونکي سره ليدلي و چې پخوا په کابل کې د برتانيي  په سفارت کې قونسل و او بيا د پښتونخوا په کـُرم ايجنسي کې د برتانيي سياسي ايجنټ و. له دې امله ځيني خلک په دې عقيده ووچې برتانويانو نادرخان ته امتياز ورکړی و چې په خپل هيواد کې واکمن شي. خو نادرخان د دغه شک په مقابل کې داسې استد لال کاوه چې د ذکرشوو برتانوي مرستو سره شرايط نه دي تړل شوي او دغه ډول مرستي د امان الله خان سره هم شوي وي.

عبدالغفار خان (۱۸۹۰-۱۹۸۸) مشهور په «باچا خان» او «فخرافغان» په خپل ۷۸۸ مخیز ژوند لیک کې د خپل پرځنګ (مبارزې) تنسته غځولي ده. باچاخان په ځته محّمدزی پښتون/افغان و- هغسي محّمدزی چې افغاني (پښتو) پرې ګرانه وه! په ۱۹۲۰ کې یې په کابل کې د امان الله خان سره ولیدل. « ډیرې خبرې مې ورسره وشوې، په خبرو خبرو کې» یې امان الله خان ته داسي وویل:« تا له ترکي درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي، خو خپله ژبه [پښتو] نه درځي». وعده یې ورسره وکړه چې زده کوي به یې.

باچاخان خبر شو چې امان الله خان افغانستان پریښی او کویټې ته رسیدلی و. هڅه یې وکړه چې لیدني ته یې کویټې ته ورشي، خو انګریزانو له نیمایي لارې نه ستون کړ او بیرته پښاورته راغی. بیا ډهلي او له هغه ځایه بمبۍ ته لاړ او هلته یې د امان الله خان سره ولیدل. «هلته یې ماسره پښتو کي خبرې وکړې.» باچاخان د امان الله خان سره «افغانستان ته د بیرته تللو خبره وکړه، لیکن هغه د افغانستان نه مایوسه شوی و...او د پښتنو نه ډیر مور معلومیده». باچا خان د سقاوي ګډوډۍ په مهال، د افغانستان لپاره په پښتونخوا کې چانده یانې بسپنه ( طبي مواد او نغدې پیسې) راټولي کړې وې. له امان الله خان نه یې په بمبۍ کي د ملاقات په مهال پوښتنه کړې وه چې دغه« حساب» (بسپنه) چا ته وروسپارې؟ «نو په جواب کې ده راته ووې چې تاسو یې نادرخان ته ورکړئ او د نادر خان امداد وکړئ[.] ملاقات ختم شو ، په ډیر خفګان سره مونږ د یو بل نه جدا شو.»

باچا خان پیښور ته راستون شو او بله ورځ خبر شو چې محمدنادر خان هم د خپلو ورونو سره پیښورته راغلی و. با چا خان او دهغه مشر ورور ډاکتر خانصیب د نادر خان لیدلو ته ورغلل. باچا خان په نادرخان شکمن شوی و چې نادر خان به د خپل هغه خوریي لپاره سلطنت ګټي چې [د سردار امین جان په نوم] دحبیب الله خان ځوی و. خو نادر خان پخپله باچاخان ته وویل:«ته به هم ژوندی یې او زه به هم ژوندی یم، که چیرې ما هغه بادشاه کړ یا پخپله بادشاه شوم، نو ته راشه او مخ راله تورکړه او راته ووایه چې نادرشاه خپله وعده دې پوره نه کړه.».څو ورځې وروسته، هاشم خان جلال اباد ته وخوځید او نا درخان او شاه ولیخان ځاځیو ته، او نادرخان له باچاخان نه «وعده واخیستله» چې سبا دې په ټل کې د نادرخان سره ووینې. باچاخان سبا ټل ته رسیږي ، خو نادرخان « په مخه تللی و.» حکیم نومې یو سړی یې په موټر کې ولید چې د نادرخان د لیدلو لپاره ځاځیو ته روان و. باچاخان ورته د نادرخان په نوم یو لیک ورکړ: « اوله وعده خو دې پوره نه کړی شوه، نو د بلې وعدې به دې څه حال وي؟».

باچاخان چې له بمبۍ نه پښتونخوا ته راستون شو، انجمن هلال احمر (د سرې میاشتې ټولنې) ته یې راپور ورکړ. ډیر خلکو چې نه یې غوښتل د نادرخان سره مرسته وکړي، خپله چانده یې بیرته واخیستله. «بیا هم مونږ نادرخان له پنځوس زره نغدې روپۍ او هغه ټول سامان ...ورولیږه.» باچاخان کاږي چې «د نادرخان تار ما له راغی چې کابل فتح شو او چې خلک خبر شو چې کابل فتح شو نو یوقسم خوشحالي په خلکو راغله چې بیان یې کولی نه شم.» خو کله چې نادر خان خپله پاچاهي اعلان کړه، «په دې خبره باندې مونږ ډیر حیران شو، ولې چې داسي کارېې وکړ چې زمونږ په خواب او خیال کې نه و، ځکه هغه خو» د باچاخان عبدالغفار خان سره په پیښور کې وعده کړې وه چې پخپله به دی نه پاچا کیږي.

ولولئ: عبدالغفارخان (باچا خان)، زما ژوند او جد وجهد. خپرندوی: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه- جرمني، چاپځی: دانش خپرندوی ټولنه- پیښور،هجري۱۳۸۷لمریز=۲۰۰۸ زییز، مخونه: ۳۳۹تر۳۵۴

که انګریزانو خپلي ملي ګټې په افغانستان کي د محّمد نادرخان په واکمنۍ کي لیدلي، شوروي روسیي/شوروي اتحاد خپلي ملي ګټې په افغانستان کي د امان الله خان په واکمنۍ کي لیدلي. په هغو شرایطو کي افغانستان د دواړو ځامنو کفایتونو ته اړتیا لرله. که د غلواکۍ په مهال محّمد نادر خان او ورونه یې نه وای، چا به د

«خادم دین رسول الله»( بچه سقو) ځای نیولې وای؟ د دواړو(امان الله خان او محّمد نادرخان) په ګډ کار سره به افغانستان ډېر پر مخ تللی وای!

**په پای کې** له منلي فدامحمّد نومیر او له ځوان غرزي نومیر نه د زړه له کومي مننه کوم: فدامحّمد راته شواهد راوسپارل او ټایپي تیر وتنې یې راته وښودلې! ځوان غرزي په ګړندي ډول زما کمپیوټري مشکلات حل کړل. تیم خو دیته وایي! ځیرکیار ۲۷ جنوري ۲۰۱۶